# د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوجۍ وزارت وزیر چین هېواد کې د انټرنټ نړیوال کنفرانس کې وینا وکړه

د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوجۍ وزارت وزیر ښاغلي الحاج مولوي نجیب الله حیات حقاني چین هېواد کې د انټرنټ نړیوال کنفرانس کې د انټرنېټ، ټکنالوجۍ او د مصنوعي ځیرکتیا په اړه وینا او خبرې وکړې.

د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوجۍ وزارت وزیر ښاغلي الحاج مولوي نجیب الله حیات حقاني دغې کنفرانس کې په خپلې وینا کې وویل، نني عصر کې انټرنټ، ټکنالوجي او همدا راز مصنوعي ځیرکتیا هغه برخې دي چې د ټول بشریت لپاره د نوي سبا پر لور د متحرک ځواک په توګه په نړۍ کې یو منل شوی حقیقت دی او دا یو څرګند حقیقت دی چې اوسني عصر کې ټولنیز، اقتصادي او فرهنګي پرمختګونو په ټولوبرخو کې د ورځنیو اړیکو او تجاري بیلابیلو تطبیقاتو څخه نیولی بیا د مصنوعي هوښ او د عظیمو اطلاعاتو او ارقامو پر بنسټ د تحلیل او پېچلو تصمیمونو د نیولو تر کچې پورې په عموم کې تکنالوجۍ او په تېره بیا د معلوماتي او مخابراتی تکنالوجی زیربناو نقش خورا اساسي دی.

د ښاغلي وزیر صاحب په وینا،همدا تکنالوجي ده چې د انسانانو په ژوند د ډېر ژور اغېز له کبله  نن د نړۍ په هرګوټ کې د ملي او نړیوال اقتصاد، امنیت، چاپېریال او په ټوله کې د بشریت د ژوندانه په جوړولو او بڼې ورکولو کې خورا مهم ځای لري.

دغې کنفرانس کې ښاغلي وزیر صاحب د افغانستان تېرو څو لسیزو ناخوالو ته په اشارې وویل،زموږ په هېواد افغانستان کې د جګړو اوسیاسی بحرانونو او نا کراریو له کبله د څو لسیزو په موده کې بشري پرمختګ نه یوازې دا چې په ټپه ولاړ و بلکې په ډېرو برخو کې زمونږ هېواد شته ابتدایي زیربناوې هم له لاسه ورکړې وې زموږ په هېواد کې د اسلامي امارت د بیا حاکمیت په راتلو او د بیارغونې او اقتصادي پرمختګ لپاره د نویو پالیسیو د تطبیق له کبله له نېکه مرغه  نن هېواد د سراسري امن درلودونکی دی، اقتصادي او اجتماعي پرمختګ ته زمینه برابره شوې او د معلوماتي او مخابراتي تکنالوجۍ د سکټور د پرمختګ له حیثه  په سیمه کې نسبتأ ښه ځای لري.

الحاج مولوي نجیب الله حیات حقاني د خپلې وینا په دوام د افغانستان پر اقتصاد محوره سیاست، اوسنیو شرایطو کې د سیمه ییزې اقتصادي ودې په برخه کې د افغانستان ونډه مهمه یاده کړه او وزیاته یې کړه چې، نن د سوله ایز چاپېریال او اقتصاد محوره سیاست او د څلورلارې په توګه جغرافیایي موقیعت ته په کتو، افغانستان ددي جوګه شوی تر څو د سیمه ایزې اقتصادي  ودې، د انرژۍ د انتقال،  تجارتي تعاملاتو او په تېره بیا د مخابراتو د سکټور پر مټ د سیمه ایزې نښلونې  لپاره د یوه هب  په توګه د دوو اړخېزو او څو اړخیزو همکاریو لپاره  ګام پورته کړي.

د ښاغلي حیات حقاني په وینا، دا یو څرګند حقیقت دی چې هیڅ یو ټولنیز پرمختګ د ټولني د انساني ځواک د فعال ګډون څخه پرته امکان نلري. زموږ د ټولنې د بشري ځواک توان، قابلیتونو او استعدادونو ته په کتو او په اقتصادي فعالیتونو کې د ICT په مرسته دهغوی د کار او خلاقیت لپاره د مناسبو شرایطو رامنځ ته کول او د پایدارې ودې په بهیر کې د ټولیز شمولیت لپاره د مخابراتو او معلوماتي سکتور د زیربناواو خدمتونو سراسري کول بې سارې ونډه اخیستې او لا هم په دې برخوکې پراخ فرصتونه شتون لري.

ښاغلي وزیر صاحب هېواد کې ټولو برخو ته د خدماتو په رسولو او هغوی ته د چوپړ په برابرولو کې په خپلې ژمنتیا ټینګار وکړ او څرګنده یې کړه چې افغانستان کې د ټولیز لاسرسي د پروګرام پر مټ ټولو وګړو او ګروپونو ته چې د جګړو وروسته شرایطو کې لا هم د خطرونو په وړاندې زیانمنېدونکي دي لکه نابینایان، معلولین، راستنېدونکي، کوچیان اونورو ته د ICT زیربناو او خدمتونو رسولو ته لومړیتوب ورکوي او په راتلونکې کې به هم په دې برخه کې کار وکړي .

ورته مهال ښاغلي الحاج مولوي نجیب الله حیات حقاني په نړیواله کچه پرمختللي هېوادونه مخاطب کړل چې د مخ پر ودې هېوادونو سره د ټکنالوجی په ودې او پرمختګ کې همکاري وکړي ترڅو د دولتي جوړښتونو او خصوصی سکتور په ګډو هڅو وکولای شي د "ډیجیټلي لریتوب" یا دیجیتلي محرومیت له منځه وړلو کې چې وګړي  یې له نوې تکنالوجي، خدمتونو او نورې نړۍ له تعامل څخه لري ساتلی، بریالي شي.

د نوموړي په خبره،نړیواله همکاري اړینه ده تر څو مخ پر ودې هیوادونه  د نوي دیجیتلي او مصنوعي ځیرکتیا پر مټ د نورو سره د ګډې راتلونکې لپاره یو ځای قدم واخلي او د همکارۍ او مرستې پر بنسټ د انټرنټ له لارې د ملي اقتصاد اداره کولو (مدیریت)، عامه خدمتونو وړاندې کولو، بریښنایي سوداګرۍ او د ژوند په  ټولو برخو کې موثر ثابت شي او د پیاوړتیا سبب وګرځي او همدارنګه ضروري ده ترڅو د تکنالوجۍ په دې عصر کې د هیوادونو، نړیوالو سازمانونو، پوهانو، مخترعینو، معلوماتي ټولنو، صنعتکارانو او د خصوصي سکتور شرکتونو د ګډو همکاریو پر بنسټ او د ټولو جوامعو د سوله ایزې او نېکمرغې راتلونکې پر لور په ګډه ګام پورته شي او د ملتونو د معنوي او کلتوري ارزښتونو او فرهنګي میراثونو او چاپېریال په ساتلو سره په تېره بیا د کار او اقتصادي همکاریو په برخه کې ښه رسیده ګي وشي.

دغې کنفرانس کې چې د ګڼو هېوادونو وزیرانو او لوړپوړو چارواکو ګډون کړی و ښاغلي وزیر صاحب، د پورته مواردو تطبیق هلته ګټور او موثر وباله،چې انټرنټ، مصنوعي ځیرکتیا او په ټوله کې تکنالوجي او اړونده عامه خدمتونه د وسلې او د فشار د ذرایعو په حیث نه، بلکې د بشریت د اړیکو، پیوستون، رفاه، ښېګڼو، عامه خوندیتوب او پرمختګونو لپاره  وکارول شي او له سیاست څخه بېل شي.

د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوجۍ وزارت وزیر ښاغلي الحاج مولوي نجیب الله حیات حقاني انټرنټ او مخابرات د نړۍ ټولو ولسونو او په ټوله کې بشریت ته هغه ټکنالوجي یاده کړه چې د ارتباطاتاتو او خدمتونو په برخه کې د یوې مهمې وسیلې په توګه چوپړ وړاندې کوي او د سهولتونو لامل کېږي، ، نه د محرومیت، انزوا او نفرت وسیله او په خبره یې دا ټکنالوجي او سکټور نه باید چې د هېوادونو او صنعتکارانو لخوا د بندیزونو موضوع وګرزي او د تکنالوجیو  تجدید ، تعویض او تدارکات  د بانکونو او ګمرکاتو په شمول د ټولو اړونده اړخونو اسانتیاو او همکاریو ته اړتیا لري، له دې پرته د نړۍ په ګوټ ګوټ کې د ډیجیتلي انزوا کچه لا پسې پراخیږي.

ښاغلي وزیر صاحب د ټکنالوجۍ د ودې او پرمختګ په برخه کې چې اوس مهال د مصنوعي ځیرکتیا په شمول ګڼې برخې یې د خلکو له لوري کارول کیږي په موثرې او خوندي ګټې اخیستنې ټینګار وکړ د ښاغلي وزیر صاحب په وینا هر څومره چې تکنالوجي پرمختګ کوي، په هماغه اندازه یې د موثرې او خوندی ګټې اخیستنې او کنترول لپاره مقرراتو، انتظامي معیارونو او اخلاقي کاروولو ته اړتیا ډیرېږي. دا اړتیا نن د مصنوعي ځیرکتیا په عصر کې تر بل هر وخت ډېره حیاتي ده.

دغې کنفرانس کې ښاغلي وزير صاحب په پرمختللو هېوادونو غږ وکړ چې مخ پر ودو هېوادونو سره د ټکنالوجۍ په ودې او پرمختګ کې مرسته وکړي هغه همدا راز وويل، کله چې موږ په ټولنو کې د ډيجيټلي ګوښه توب د له منځه وړلو څخه خبرې کوو، دا حقيقت بايد څرګند کړو چې ددې ګوښتوب لوی عامل د مخ پر ودې هيوادونو تکنالوجيکي او ديجيتلي انزوا ده.

د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوجۍ وزارت وزير ښاغلي الحاج مولوي نجيب الله حيات حقاني د نړۍ په ګوټ ګوټ کې د ديجيتلي انزوا يو ستر سبب تکنالوجۍ، انترنټ او ديجيتلي خدمتونو ته د خلکو دلاسرسي په وړاندې محدوديتونه او د اقتصادي استطاعت نه شتون ياد کړ او ټينګار يې وکړ چې نن له بل هر وخت څخه دا اړتيا ډېره محسوسيږي چې په وچه کې راګير هېوادونو سره بايد د نورو ګاونډيو هيوادونو پاليسی جوړونکي، نړيوال سازمانونه او خصوصي سکټورونه همکاري وکړي تر څو نړيوالو زيربناوو لکه د نوري فايبر بحری کيبلونو ته له نړيوالو منل شويو حقوقي او تجاري عادلانه معيارونو سره سم لاسرسی مساعد شي.

ښاغلي وزير صاحب په دې برخه کې د سيمه ايزې او نړيوالې همکارۍ لپاره د يوه هر اړخيزه ميکانيزم پر جوړولو او د هېوادونو له لوري يې پلې کول اړين وبلل تر څو په نړيواله کچه د ديجيتلي ليريتوب د له منځه وړلو سبب شي.

پای کې د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوجۍ وزرات وزير وويل، اړينه بولم چې په دې برخه کې ګـډه راتلونکې، ګـډ سوله ايز ژوند او ګـډ خونديتوب يوازي او يوازې د ټولو د ګــډې همکارۍ او د ټولو ګــډو ته د متقابل درناوي له لارې په ښه توګـــه جوړېــــدلای شي.